## د سولې پروسه؛ په افغانستان کې د امریکا د خطرناکې لوبې دوام

**خبر:**

ټرمپ د مارچ په ۳مه د سه شنبې په ورځ د زلمي خليلزاد په حضور د طالبانو ډلې له سياسي مرستيال ملا عبدالغني برادر سره ټيليفوني خبرې وکړې. د طالبانو ډلې په يوه اعلاميه کې ويلي چې دغه اړيکه د تاوتريخوالي د کمښت او د بين الافغاني خبرو اترو په اړه وه. ټرمپ له دغو خبرو اترو وروسته په سپينه ماڼۍ کې خبريالانو ته وويل چې له ملا برادر سره يې «ښې خبرې اترې» درلودې. اعلاميه زياتوي چې ټرمپ وايي چې د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پمپيو به ژر تر ژره د بين الافغاني خبرو اترو د خنډونو د له منځه وړلو لپاره له ولسمشر اشرف غني سره ليدنه وکړي. همدارنګه ملا برادر له ټرمپ څخه غوښتي چې له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو د وتلو او په راتلونکي کې د مثبتو اړيکو د ټينګولو په اړه قاطعيت وکړي او اجازه ورنه کړي چې څوک د لاسليک شوي هوه‌کړه خلاف عمل وکړي او امريکا په دغه اوږده جګړه کې تر دې زياته ښکېله وساتي. (سرچينه: اطلاعات‌روز ورځپاڼه)

**تبصره:**

امريکا د افغانستان په نظامي جبهه کې له فاحشې ماتې سره مخ شوې ده او نور د امريکا هېڅ ولسمشر ته شونې نه وه چې د امريکا د خلکو د عامه افکارو او غوښتنو پر وړاندې پلمې جوړې کړي. نو د امريکا د تاريخ د خورا اوږدې جګړې د پای ته رسولو د اعلان لپاره يې له طالبانو سره د سولې پروسه پيل کړه. مګر اوس امريکا له طالبانو سره د سولې پروسې له لارې داسې څه تر لاسه کړل چې د جګړې له لارې ورته ناشوني ښکارېدل. نو له طالبانو سره د سولې د هوکړه‌ليک له لاسليک وروسته امريکا هڅه کوي، داسې وښيي چې ګواکې پر خپلو ټولو ژمنو عمل کوي او تر پايه ورته ژمنه پاتې کېږي. مګر د مارچ په څلورمه د چهارشنبې په ورځ په لومړۍ ژمنه ماتونه کې په افغانستان کې د امريکايي ځواکونو وياند «ساني لګټ» پر خپله ټوټيرپاڼه وليکل: «د هلمند ولايت په نهر سراج ولسوالۍ کې د افغان امنيتي ځواکونو پر هډه د طالبانو د بريد په ځواب کې يې هوايي بريد ترسره کړی دی.» دا په داسې حال کې ده چې له طالبانو سره د امريکا چټله سياسي لوبه نوې پيل شوې ده او لومړنۍ جرقې يې د طالب زندانيانو د نه ازادولو او له دغې ډلې څخه د پاکستان د ملاتړ ګواښلو په اړه د اشرف غني په ژبه جاري شوې دي.

د دې چټلې لوبې د مخ ته وړلو لپاره له يوې خوا د اکثريت خلکو له لوري په تحريم شوو او له فساده ډکو ټاکنو کې د امريکا په شنه چراغ سره اشرف غني ګټونکی اعلان شو، ترڅو د طالبانو د لا زيات تنازل لپاره پر هغوی فشار راوړي او په تدريج يې له مخکنيو دريځونو څخه راښکته کړي. له بلې خوا د مدني ټولنو، د ښځو حقونو او بشري حقونو کميسيونونو بنسټونه هم خپل فعاليتونه څو برابره زيات کړي، ترڅو په بين الافغاني خبرو اترو کې پر طالبانو فشار راوړي او د ښځو د حقونو او ازاديو لپاره غږ اوچت کړي.

د دې چټلې لوبې بل مخ د امريکا د بهرنيو چارو وزير مايک پمپيو څرګندونې دي، چې له طالبانو سره يې د امريکا له پټو ژمنو پرده لرې کړه. دا ډول څرګندونې هم د طالبانو په صفونو کې ستر درزونه او پراخې بې باورۍ رامنځته کولی شي، چې په دا ډول شرايطو کې به د دغو درزونو نښلول او سمون د طالبانو د رهبرۍ لپاره يو ستونزمن کار وي.

د دې چټلې لوبې بل اړخ د امريکا له اشغالګرو ځواکونو سره اوربند او له افغان ځواکونو سره د جګړې دوام دی، چې په خلکو کې د طالبانو محبوبيت په بې‌ساري ډول کموي. پر دې سربېره له ننګونو ډک پړاو د بين الافغاني خبرو اترو بريا ده، چې په هغو کې د اختلافونو اصلي محرکين خپله د اشغالګرانو سفارتونه دي؛ خو د دې تر څنګ غواړي چې د دغې چټلې لوبې تاريخي مسووليت خپله افغانان پر غاړه واخلي.

خو بیا هم طالبان د امریکایي سولې د کاږه واږه مسیر او کږلېچونو پر دوام بوخت دي. طالبانو په افغانستان کې د امریکا د ماتې او تړونونو ته د امریکا د نه ژمنتیا واقعیت نه دی درک کړی او د امریکایانو پر ژبه چې د منفعت ژبه ده، سم نه دي پوهېدلي. نو له بده مرغه د امریکا په دام کې بند پاتې دي، چې اساسي موارد یې په لاندې ډول دي:

الف. پر امریکایانانو او په افغانستان او نړۍ کې د دوی پر منافعو له هر ډول بریدونو د طالبانو ډډه کول.

ب. د افغانستان په خاوره کې له نړیوالو جهادیانو سره د طالبانو د اړیکو مخنیوی.

ج. په کابل کې له لاسپوڅي حکومت او هغو ټولو اړخونو سره د خبرو اترو منل چې په ۱۹ کلونو کې په امریکایي او غربي ارزښتونو روزل شوي دي.

د. د ټولو نړیوالو قوانینو او معیارونو او په پایله کې د دولت- ملت ناروا مفهوم منل.

طالبانو د پورتنیو شرطونو په منلو له جهاد او جهادي ډلو سره نړیواله عقیدوي اړیکه پرې کړه او د اوسني نړیوال نظم پر اساس یې چې امریکا یې رهبري کوي، د دولت-ملت په کنده کې خپل سقوط روښانه کړ. نو دا د افغانستان د مسلمانو او مجاهدو خلکو دنده ده چې د امریکا د دې چټلې لوبې مختلف اړخونه درک کړي او پر سیاستوالو، متنفذینو او طالبانو فشار راوړي چې د دغې امریکایي سولې د دوام پر ځای، لومړۍ هغه ودروي او په پای کې د امریکا غرور د امپراتوریو په دغه هدیره کې پر ځمکه وغورځوي. د افغانستان جګړه یوازې د هوکړه‌لیکونو په لاسلیکولو نه حل کېږي، ځکه د افغانستان ستونزه یوه افغاني ستونزه نه، بلکې یوه سیمه‌ییزه او نړیواله ستونزه ده. دا ستونزه تر هغه چې مسلمانان تر یوه واحد چتر لاندې راټول نه شي او دویم راشده خلافت تاسیس نه کړي، د حل وړ نه ده. موږ الله سبحانه وتعالی ته دعا کوو چې مسلمانانو ته یووالی ورپه برخه کړي، د کفارو او منافقینو له مکره یې په امن کې وساتي او دا وروستی کال وي چې له خلافت پرته ژوند کوو او په راتلونکي کال کې د راشده خلافت تر چتر او د عقاب بیرغ تر سیوري لاندې د رجب میاشتې هرکلی وکړو.

**سیف الله مستنیر**

**د حزب التحریر – ولایه افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس**